**بسم الله الرحمن الرحيم**

۲۲-۲۳ فبروري ۲۰۱۶، کابل، افغانستان

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين نبينا محمد، وعلى آله وصحبه اجمعين.

موږ د افغانستان علما، فقها، امامان ، داعيان د الله تعالی په فضل او مهربانی سره راټول شوي يو تر څو د خپل ګران هېواد له ټولو برخود پوليو د مرض په له منځه وړلو کې په همکاری سره خپله ديني وجيبه سرته ورسوو. موږ د پوليو د له منځه وړلو له پاره د اسلامي مشورتي ګروپ، چې په کې ازهر شريف، د فقهي نړيواله اسلامي اداره، د اسلامي همکارۍ سازمان او اسلامي پراختيايي بانک شامل دي، مخکښ رول ستايو. موږ د ياد ګروپ لخوا چې کومه اعلاميه په ۲۰۱۴ کال کې د جدې په کنفرانس کې خپره شوې وه تايئدوو. دغه راز د اسلامي همکارۍ کنفرانس او د بهرنيو چارو وزيرانو او د روغتيا د وزيرانو کنفرانسونه او د پوليو او نورو مرضونو پر ضد د دوی پرېکړې او سپارښتني منو.

موږ د افغانستان علما او فقها، وروسته له دې چې د اعتبار وړمتخصصو ډاکټرانو توضيحات مو واورېده، او همدا دول د ازهر شريف، د اسلامي فقهي نړيوالې ادارې، د هند د دار العوم ديوبند او د فتوا نورو مرکزونو له لورې خپرو شويو فتواګانو سره خپل موافقت اعلانوو، او دغه ډول پرېکړه کوو؛

1. د پوليو مرض تداوی نه لرې واکسينونه د شريعت له نظره ضروری دی، او د اسلامي شريعت له احکامو، اساساتو، عمومي او خصوصي مقاصدو سره مطابق دي. پر کورنيو لازمه ده چې د خپلو اولادونو واکسين کولو له پاره هڅې وکړي. خدای تعالی فرمايي (قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ قَتَلُوا أَوْلادَهُمْ سَفَهًا بِغَيْرِ عِلْمٍ وَحَرَّمُوا مَا رَزَقَهُمُ اللَّهُ افْتِرَاءً عَلَى اللَّهِ قَدْ ضَلُّوا وَمَا (سوره انعام آيه 140). ډاکټران وايي چې د پوليو پر ضد واکسين کې ضررناک څه نه شته، بلکې ټوله اسلامي نړۍ کې له ډېرې مودې راپه دې خوا همدغه واکسين ترسره کېږي چې افغانستان کې کېږي.
2. موږ په دې باور يو چې هغه مسافرين چې له افغانستان څخه بهر ته سفر کوي که لويان وي يا کوچنيان، نارينه وي او که ښځينه، د پوليو واکسين اخستل ضروری دی.
3. ټولې کورنۍ دې ته هڅوو چې خپل ماشومان د پوليو په ګډون د ټولو هغو ناروغيو څخه چې مخنيوی يې ممکن دی، د واکسين د تطبيق پواسطه وژغوري
4. موږ تر اوسه د پوليو واکسين پر ضد د غلطو معلوماتو له خپرېدو اندېښمن يو، او په دې تړاو، له رسنيو، علماوو او د عامه رايي له جوړوونکو څخه غوښتنه کوو چې د پوليو په اړه د خلکو د نظر جوړولو کې مرسته وکړي او د دغه واکسين په تړاو د خلکو اندېښنې پای ته ورسوي.
5. موږ، علما او فقها پر روغتيايي کارکونکو ټول بريدونه او تېري غندو او له ټولو هيله کوو چې له دوی سره په درنښت او قدرداني چلند وکړي، څکه چې الله تعالی په نېکۍ او تقوا کې د مرستې امر کړی (وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ) (سوره المائده آيه 2)دغه راز د پوليو پر ضد پر اسلامي همکارۍ ټينګار کوو او د ياد مرض د له منځه وړو په اړه د ټولو سيمه ييزو او نړيوالو هڅو پر اړتيا ټينګار کوو.
6. له ټولو ارخونو څخه چې وراندی يې يادونه يې وشوه او د هغو ادارو څخه چې په افغانستان کې يې د دغه کنفرانس په ترسره کېدو کې مرسته کړې، مننه کوو او په دغه هېواد کې له اړوندو چارواکو غوښتنه کوو چې د پوليو په اړه خپلې دندې وپېژني او د دغه مرض په له منځه وړو کې لازم اجراآت ترسره کړي. دغه راز د هغو څانګړو مالي مرستو قدرداني کوو چې د اسلامي هېوادونو او مؤسسو له لورې وړاندې شوي، چې د اسلامي پرمختيايي بانک مرستې هم په کې د يادولو وړ دي.

وصلي اللهم وسلم على سيدنا محمد وعلى آله وصحبه.